# د وروځو او مخ د وېښتانو کښل
# د اسلام او طبابت له نظره

د

## النمص بين الشريعة والطب

د کتاب ژباړه


**ليکواله:**

**ام عبدالرحمن**

**ژباړن:**

**عبدالمالک (همت)**

**د کتاب نوم:** د وروځو او مخ د وېښتانو کښل د اسلام او طبابت له نظره

**د کتاب فارسي نوم:** برداشتن موی ابرو و صورت از دیدگاه اسلام و پزشکي

**اسم الکتاب بالعربية:** النمص بين الشريعة والطب

**ليکواله:** ام عبدالرحمن

**ژباړن:** عبدالمالک (همت)

**موضوع:** عامه فقه

**د چاپ شمېر:** لومړي (ديجيتال)

**د چاپ تاريخ:** سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

**سرچينه:**

**دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.**

**www.aqeedeh.com/pa**

**برښنا ليک:** **book@aqeedeh.com**

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

www.mowahedin.com — www.aqeedeh.com

www.videofarsi.com — www.islamtxt.com

www.zekr.tv — www.shabnam.cc

www.mowahed.com — www.sadaislam.com

**په عقيدې سايت کي ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ


**لیکلړ................................................أ**

**د ژباړن خبري.......................................... ۱**

**سریزه................................................... ۴**

**له لغوي پلوه د (النّمَصُ) د کلمې څېړل ....................... ۶**

**د اسلام له نظره د وروځو نرۍ کول ........................... ۱۰**

لومړی دلیل: قرآن کریم: ........................................ ۱۰

دوهم دلیل: نبوي سنت: ......................................... ۱۲

د اوسنیو سترو عالمانو فتوا......................................... ۱٦

**د مخ او وروځو د وېښتانو اخیستل د طبابت له نظره........................ ۲۸**

دغه ټکي د تأمل او تفکر وړ دي ................................... ۳۲

پای.............................................................. ۳٤

**د ژباړن لنډه پیژندنه........................................... ۳۹**

**مبارک پیل**

«قَالَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنْ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنْ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا» (رواه الإمام المسلم).

ژباړه: رسول اللهﷺ فرمایی: څوک چي هدایت (سمي لاري) ته بلنه وکړي د هغو ټولو خلکو ثواب ورکول کیږي چي پر دغه هدایت تلنه او کړنه کوي او د هغو له ثوابه هم څه نه کمیږي. او څوک چي ګمراهۍ ته بلنه وکړي، د هغو ټولو خلکو ګناه چي عمل په کوي پرده لیکل کیږي او د عمل کوونکو له ګنهونو څخه هم څه نه کمیږي.

# د ژباړن خبري

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على محمد سيد المرسلين وعلى آله وصحبه وأزواجه أمهات المؤمنين وبعد:

ډېرو درنو او عزتمنو وروڼو او خوندو!

له ډېره مهاله مي په زړه کي وه چي د يوې ښکلي مسلماني کورنۍ د جوړېدو او د مسلمانو مېړه او مېرمني د اړيکو، په تېره د مسلمانو ښځو د کالو او وروځو اخيستلو او ځان جوړولو په هکله او په دې اړه د حل او حرمت په باب زموږ د سپېڅلي دين او ښکلي غرا شريعت احکام را غونډ او د يوه کتاب په بڼه يې تاسي ته د يوې ډالۍ په توګه وړاندي کړم. خو باور وکړئ چي زما بوختياوي، البته د ليکنو او ژباړي په برخه کي دوني زياتي وې چي زه يې دې کار ته نه پرېښوولم. په دې ترڅ کي صرف مادوني وکولای سول چي زما د يوه کتاب «زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي» د دوهم چاپ په يوه برخه کي د هغه د موضوعاتو او حجم په پام کي نيولو سره څه څرګندوني وکړم، خو په دې سره مي د دې موضوع د څېړني حق ادا سوی نه باله.

يو وخت په انټرنېټ کي په فارسي ژبه ژباړلو سوو درو داسي کتابونو باندي پېښ سوم چي په دې هکله يې زما د غه هيلي تر سره کولې. نو هغه وو چي دغه کتابونه مي په دې نيت په خپل کمپيوټر کي خوندي کړل چي په يوه مناسب فرصت کي کار ځني واخلم. دغه

کتابونه وه د «البيت السعيد وخلاف الزوجين» فارسي ژباړه «خانوادهٔ خوشبخت واختلاف زوجين»، د «النمص بين الشريعة والطب» فارسي ژباړه «برداشتن موی ابرو و صورت از ديدگاه اسلام و پزشکي» او د «النصائح الثمينة لمخالفات المراة في اللباس والزينة» ژباړه «راهنمايی‌های ارزشمند دربارهٔ لباس و آرايش زنان». کله چې مې څه فرصت ترلاسه کړ،نو مې دغه کتابونه مطالعه کړل او راته څرګنده سوه چې که دغه درې کتابونه خپاره سي، نو په اړونده موضوع کې بېل کتاب ليکلو ته ضرورت نه ليدل کيږي. ځکه مې نو و پتېيل چې په دې هکله له ځانګړي کتاب ليکلو څخه تېر سم او همدغه کتابونه زما د مسلمانو ورونو او خوندو د مطالعې او ګټې اخيستني لپاره په پښتو او دري دواړو ژبو خپاره سي. نو هغه وو چې لومړی مې د درو سرو کتابونو اصل په عربي ژبه په کمپيوټر او مکتبهٔ شامله کې پيدا کړل، بيا مې درې سره فارسي کتابونه ورسره تطبيق کړل او زموږ په دوديزه دري ژبه مې واړول او تصحيح او ترتيب مې کړل. بيامي درې سره په پښتو ژبه وژباړل، چې دا دی له دغو کتابونو څخه يو يې ستاسي په لاسونو کې دی.

زه د لوی څښتن ﷻ د احسان منندوی يم چې موږ او تاسي ته يې توفيق را کړ چې په دې موضوعاتو کې د دې سپېڅلي دين او شريعت احکام مطالعه کړو او د پلي کېدو لپاره يې هلي ځلي وکړو.

مسلمانو ورونو او خوندو!

په دنيا کې تر بل هر کار دمخه زموږ د نېکمرغۍ او په آخرت کې زموږ د ژغورني له لاملونو څخه زموږ د دين په چارو کې ژور غور او تفکر، په تېره د واده کولو او د يوې مسلماني کورنۍ د رامنځ ته

کولو، او د اسلامي شریعت سره زمونږ د کړو وړو او ځان د برابرولو او سمبالولو په چارو، احکامو او مسایلو کي تأمل او دقت دی.

درنو مسلمانو خوندو!

دغه کتاب (د وروځو او مخ د وېښتانو کښل د اسلام او طبابت له نظره) په دې اړه د دې ارزښتناک اسلامي تګ لوري څرګندوونکی دی چي هیله ده د هغه په مطالعه سره خپل کړه وړه او شخصیت د یوې رشتیني مسلماني په څېر سمبال کړئ او مونږ له خپلو دعاوو څخه هېر نه کړئ.

وصلی الله وسلم علی محمد وآله وصحبه اجمعین.

**ستاسی د دعا وو هیله من: عبدالمالک همت، د ده افغانانو نوآباد، کابل، د ۱۳۹۰ ل. دوړی د میاشتي اوولسمه**

# سریزه

إنّ الحمد لله، نحمده ونستعینه ونستهدیه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سیئات أعمالنا، من یهده الله فلا مضلَّ له، ومن یضلل فلا هادی له، وأشهد أن لا إله إلاَّ الله وحده لا شریك له، وأشهد أنَّ محمداً عبده ورسوله.

ټولي ثناوي او ستاینې لوی څښتن ﷻ لره دي، د هغه ستاینه کوو، له هغه څخه مرسته او لارښوونه غواړو. زموږ د نفسونو او بدو عملونو له شره هغه ته پناه وروړو. چا ته چي لوی څښتن لار وښيي، هیڅوک یې نه سي بې لاري کولای، او څوک چي لوی څښتن بې لاري کړي، هیڅوک یې نه سي پر لار کولای.

شاهدي وایو چي له دغه لوی څښتن څخه پرته بل پر حق معبود نسته، دی یو دی او هیڅ شریک نه لري او دغه راز شاهدي وایو چي حضرت محمد ﷺ د ده بنده او پیغمبر دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٢﴾ [آل عمران: 102].

«ای مومنانو! په زړه کي د الله داسي ببره ولرئ، لکه څنګه چي له هغه څخه د بېرېدو حق دی (دا هله وي چي اطاعت وکړئ او سر کښني ونه کړئ او شکر وکاږئ او ناشکري ونه کړئ او ما په یاد ولرئ او هېر مي نه کړئ). او په اسلام تر هغو تمسک وکړئ چي مرګ مو راځئ، (څو د لوی څښتن سره مخامخ سئ او پر اسلام اوسئ)».

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ٧١﴾ [الأحزاب:۷۰-۷۱].

«ای مومنانو! له الله څخه وبېرېږئ (او خپل ځانونه د نېکيو په ترسره کولو او له بديو په ليري کولو سره د هغه له عذابه وساتئ) او (حق او) سمه خبره کوئ. په پايله کي به الله (د خير توفيق درکړي او) ستاسي عملونه به درسم کړي او له ګناهونو څخه به در تېر سي. هر څوك چي د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړي، لوی برياليتوب به ترلاسه کړي».

اما بعد:

د ډېري خواشينۍ ځای دی چي ځيني خوندي وينو چي د لوېديځوالو (غربيانو) لار او کړه وړه يې غوره کړي دي او په خويونو، آدابو او ټولنيزو اخلاقو او دودونو کي خپل ځانونه د لوېديزو ښځو سره ورته کوي. په تېره د ورو ځو په کښلو يا د وروځو د وريښتانو په نخ کولو يا نرۍ کولو کي د هغو له ډېر بد او ناوړه دود پيښي (تقليد) کوي.

ما په دې کتابګوټي کي د دې کار حکم د اسلام د سپېڅلي دين د شريعت او د طبابت له نظره په تفصيل سره بيان کړی دی او همداراز مي ځينو نورو خبروته چي په دې موضوع اړه لري اشاره کړې ده.

له لوی څښتن ﷻ څخه د توفيق، اخلاص او د دې خدمت د منلو هيله کوم.

**ام عبدالرحمن**

## له لغوي پلوه د (النّمَصُ) د کلمې څېړل

**د ابن اثیر رایه[1] :**

أَلنَّمَصُ: د وروځو نرۍ کول د هغو د ښکلا لپاره.

النامصه: هغه ښځه چې د ښځو وروځې نرۍ کوي.

المتنمصه: هغه ښځه چې د وروځو د نرۍ کولو غوښتونکې وي.

أَلَمِنْماصْ: ورېښتان کښونکی، نوسی (موچین).

**د نووی رایه[2] :**

د متنمصات په باب کې وايي: متنمصات د متنمصه جمع ده، او ابن الجوزی هغه منتمصه بولي، چې میم یې تر نون دمخه کړی او مقلوب دی.

المتنمصه: هغه ښځه چې د خپلو وروځو ورېښتان په نورو نرۍ کوي.

النامصه: هغه ښځه چې د نورو د وروځو ورېښتان نري کوي.

النماص: په موچین سره د مخ د ورېښتانو ایسته کول.له همدې کبله منقاش (موچین) ته منماص ویل کیږي. او همدارنګه ویل کیږي چې نماص د وروځو د نرۍ کولو یا سمولو لپاره ځانګړی سوی دی.

**د فیروزآبادی رایه او نظر[1] :**

---

۱- جامع الأصول (780/4).

۲- پر مسلم باندې د نووی شرح (106/13).

النمصُ: يعني د وريښتانو کښل، او پر هغه ښځه لعنت ويل سوی دی چي وريښتان کاږي.او دا هغه سينګاروونکې ده چي د ښځو د وروځو وريښتان کاږي او وروځي يې نرۍ جوړوي.

النَّمَصُ: (چي ټول توري يې حرکت ولري) د وريښتانو نازکول او نري کول، په داسي ډول چي هغه د نوو راشنو سوو وريښتانو غوندي ښکاره سي يا د لنډو وريښتانو په معنا.

النَّميص: يعني: کښل سوی، که د وښو لپاره استعمال سي د هغو وښو په معنا دي چي کوم څاروي هغه په خوله کښلي وي. نه د هغو وښو په معنا چي خوړلي يې وي او وروسته بيا راشنه سوي وي.

**د ابن منظور رايه[٢]:**

النَّمَصُ: لنډ وريښتان، او النَّمص: يعني: د وريښتانو نازکېدل او نري کېدل په داسي ډول چي هغه د نوو راشنو سوو وريښتانو غوندي وليدل سي.

رَجُلٌ أَنْمَصٌ: يعني: هغه سړی چي تازه يې وريښتان را شنه سوي دي.او رجل أنمص الحاجب هغه سړی چي د وروځو وريښتان يې تر کښلو وروسته بيا راشنه سوي وي.

النمص: يعني د وريښتانو کښل او نَمَصَ شَعْرَهُ يَنْمُصُهُ نَمْصاً يعني وريښتان يې وکښل.

**زمخشری رايه[٣]:**

١- د فيروز آبادی او الزاوی ترتيب القاموسی المحيط – (444/4).

٢- د ابن منظور لسان العرب (101/7).

٣- الفائق فی غريب الحديث (26/4)، د محمد ابراهيم او علی البجاوی تحقيق.

اَلنَّمص: يعني د وريښتانو کښل. او أَلْمِنْماص: يعني وريښتان کښونکی (موچين).

**ابن فارس ويلي دي[١]:**

أَلنَّمَصُ: د وريښتانو نري کول، أَلنَّمَص يعني د هغو کښل.

المنماص: يعني وريښتان کښونکی (موچين).

ستر حديث پوه ابن حجر داسي فرمايي[٢]:

اَلنّامِصَه: هغي ښځي ته وايي چي وريښتان کاږي.

اَلْمُتنمصه: هغي ښځي ته وايي چي د خپلو وريښتانو د کښلو غوښتونکې وي.

له قاضی عياض[٣]، ابن اثير[٤] او ابی عبيده القاسم بن سلام[٥] څخه روايت سوی دی چي نامصه هغي ښځي ته وايي چي وريښتان له مخ څخه کاږي.

**ابن منظور[٦] وايي:**

... زَجَّجَتِ المرأهُ حاجبها بِالْمِزَحِّ: يعني ښځي خپلي وروځي نری او لنډي کړې. ځينو بياويلي دي: يعني وروځي يې په رانجو اوږدې کړې. او شاعر په دې اړه داسي وايي:

إذا مـــا الغانيـــات بَـــرَزْن يومـــا وزجَّجْـــنَ الْحواجـــب والعيونـــا

١- د ابن فارس، مجمل اللغه، 886 مخ.

٢- د ابن حجر، تفسير غريب الحديث 246 مخ.

٣- مشارق الأنوار على صحاح الآثار (13/2).

٤- النهايه فى غريب الحديث والأثر (199/5).

٥- غريب الحديث (166/1).

٦- لسان العرب (287/2) په لږ بدلون سره.

کلـه چـې نجونـو واده وکـړ، نـو يـوه ورځ خپـل ځانونـه ښـيي او وروځـې او سـترګې اوږدوي. د شـاعر موخـه د ورو ځـو نـرۍ کـول او اوږدول دي چې د اضافي وريښتانو په ايسته کولو سره ترسـره کيـږي. د جاهليت په زمانه کې ښځو د وروځو وريښتان نـري کـول او رسـول الله ﷺ هغوی له دې کار څخه منع کړې.

# د اسلام له نظره د وروځو نرۍ کول

د وروځو د نرۍ کولو حراموالی هم په قرآن کریم او هم د رسول اللهﷺ په احادیثو کې راغلی دی.

## لومړی دلیل: قرآن کریم:

قوله تعالی:

﴿وَلَآمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ﴾ [النساء: ١١٩].

«(شیطان وویل) او بلنه به ورکړم چې د الله لخوا (په فطري) جوړونه (تخلیق) کې بدلون راولي».

ابن عربی د دې آیت په هکله فرمايي:

پر دغو کسانو لعنت سوی دی:

الـف) څـوک چـې خالونـه وهـي او څـوک چـې د خـالونو وهلـو غوښتونکی دی.

ب) څوک چې وروځې نرۍ کوي او څوک چې د وروځـو د نـرۍ کولو غوښتونکی دی.

ج) څوک چې غاښونه نـري کـوي او څـوک چـې یـې غوښـتونکی دی.

د) څوک چې د ښکلا لپاره د غاښونو په منځ کې فاصـله یوشـانته کوي او په دې کار سره د لوی څښتن خلقت ته بدلون ورکوي.

رسول اللهﷺ وفرمایل:

«لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ»[۱].

«الله تعالی لعنت فرمایلی دی پر هغو ښځو چي خالونه وهي او پر هغو ښځو چي غواړي خالونه ور ووهل سي، او پر هغو ښځو چي وروځي نرۍ کوي او پر هغو ښځو چي د هغو د نرۍ کولو غوښتونکي وي، او پر هغو ښځو چي غاښونه د ښکلا په موخه نري کوي، او پر هغو ښځو چي د لوی څښتن خلقت ته بدلون ورکوي».

الْوَاشِمَاتِ د واشمه جمع ده او واشمه هغي ښځي ته وایي چي د بدن ځای یا د هغه ځیني خطونه تپي کوي او رانجه پکښي واچوي او په دې توګه خالونه پکښي پیدا کیږي، چي بیا یې په تکبر سره ښکاره کوي. ښځي په دې توګه خپل ځانونه نارینه وو ته سینګاروي، او د صقلیې د ټاپو او افریقې نارینه وو دغه کار د دې لپاره کاوه چي دخلقت په لومړیو کي د دوی د نارینه توب نخښه وي.

الْمُتَنَمِّصَاتِ د نامصه جمع ده او نامصه هغه ښځه ده چي د ښکلا په موخه خپل وریښتان کاږي. ابن عربی وایي: دغه ټول کارونه د لوی څښتن د پیدایښت او خلقت بدلون او د بڼې او قیافې تغییر دی چي د اسلام له نظره حرام باله سي.

حسن بصري رحمه الله هم له پورتني آیت څخه همدغه خبره فهمولې ده[۲].

---

۱- بخاری (380/10)، 5948 شمېره حدیث او مسلم (105/14) شمېره حدیث.

۲- د ابن عربی احکام القرآن (501/1).

ابن سعدی: د پورتني آیت په توضیح کي وایي:

دغه بدلونونه، یعني د ښکلا په موخه د ظاهر بدلون او تغیر په خال وهلو، د غاښونو په نري کولو، د وروځو په نرۍ کولو او د غاښونو په یو رنګه کولو سره د شیطان تېرایستنه او غولونه ده چي په دې توګه هغوی لمسوي چي د لوی څښتن ﷻ خلقت او جوړښت ته بدلون ورکړي.

دغه عملونه د لوی څښتن ﷻ پر خلقت او پیدایښت باندي نیوکه او د هغه د حکمت او ارادې په هکله یو ډول تانه ده.

د دغو کارونو کوونکي په دغسي کارونو سره عملاً ځرګندوي چي کوم کارونه چي په خپل لاس کوي د لوی څښتن ﷻ تر خلقت او جوړښت ښه او غوره دي. همداراز د لوی څښتن د تقدیر او تدبیر په هکله یو ډول نا خوښي هم باله سي او د دنني خلقت بدلون ته هم شاملیږي[1].

## دوهم دلیل: نبوي سنت:

رسول ﷺ فرمایي:

«لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ »[2].

«الله تعالی لعنت فرمایلی دی پر هغو ښځو چي خالونه وهي او پر هغو ښځو چي غواړي خالونه ورووهل سي، او پر هغو ښځو چي وروځي نرۍ کوي او پر هغو ښځو چي د هغو د نرۍ کولو

۱- تیسیر الکریم الرحمن (170/2).

۲- بخاری (380/10)، 5948 شمېره او مسلم (105/14) شمېره.

غوښتونکي وي، او پر هغو ښځو چي غاښونه د ښکلا په موخه نـري کوي ،او پر هغو ښځو چي د لوی څښتن خلقت ته بدلون ورکوي».

ابن منظور د «لعن» د کلمې په هکله داسي وايـي: أَبَيـتَ اللعـنَ: دا داسي جمله ده چي عربو د جاهليت په زمانه کي د واکمنانو د صفت او تعريف لپاره کارول، په دې ډول چي: ای پاچـا تـه د هغـو کـارونو سره چي د کرکي او ظلم لامل کيږي مخالف يـې او هغـه منع کـوې. «لعن» يعني: له خير څخه ليري والی، ان چي ځيني پـه دې نظـر دي چي «لعن» يعني له لوی څښتن څخه ليري والی، او لوی څښتن چي پر هر چا لعنت وکړي په واقعيت کي د هغـه لـه رحمـت او مهربـانۍ څخه ليري سي، او د عذاب وړ وګرځي، ځکه نو هلاکيږي[1].

ابوداود د دې حديث شريف په څرګندونـه کـي فرمـايي: اَلنّامِصـه: هغه ښځه ده چي وروځي ښايسته او نـرۍ کـوي[2] چي دا کـار د لـوی څښتن خلقت او جوړښت ته بدلون ورکول باله سي[3].

اَلْمُتَنَمّصـه: هغــه ښــځه ده چــي د خپلــو وروځــو د نــرۍ کولــو غوښتونکې وي.

قاضی عياض وايي:

النامصه: هغه ښځه ده چي د خپل مخ او د نورو لـه مخونـو څخـه وريښتان کاږي.

المتنمصـه: هغـه ښـځه ده چـي لـه خپـل مـخ او وروځـو څخـه د وريښتانو د کښلو غوښتونکې ده.

---

۱- د ابن منظور لسان العرب (388/13).

۲- سنن ابوداود (399/4).

۳- زياده عند النووی فی شرح مسلم (106/13).

ځینو ویلي دي چي النِّماص: یوازي له دوو وروځو څخه د وريښتانو ايسته کولو ته ځانګړی سوی دی کوم چي هغه نریٔ کوي يايې سموي[1].

مروزي له امام احمد څخه روايت کوي چي په نوسي (موچين) يا تار سره له مخ څخه د وريښتانو اخيستل په قطعي توګه مکروه دي. او پيغمبرﷺ پر هغه سړي چي د خپلو وريښتانو د کښلو غوښتونکی دی لعنت ويلی دی. او د امام احمد په نزد له کراهيت څخه منظور، تحريمي کراهيت دی. دليل يې په دې هکله د رسولﷺ هغه حديث دی چي وايي لعنت دي وي پر هر هغه چا چي دغسي کار وکړي. او څرګنده ده چي لعنت لويو (کبيره) ګنهونو ته ځانګړی دی. د دغو وريښتانو خريل او لنډول هم د هغو د کښلو غوندي باله سي[2].

ابن علان وايي: په نهی (منع) کي يوازي د وروځو او د مخ د اطرافو وريښتان راځي[3].

ابن اثير ويلي دي: اَلنَّمصُ: يعني د وروځو نازکول او نریٔ کول د هغو د ښايست په موخه. لکه چي د دې کلمې په لغوي څېړنه کي وويل سول[4].

نووي ويلي دي: النّامصه: هغه ښځه ده چي د نورو د وروځو وريښتان د ښايست په مقصد نریٔ کوي او اخلي يې. او متنمصه: هغه ښځه ده چي د دې کار غوښتونکې وي[1].

---

١- د احمد البنا الفتح الرباني، (298/17).

٢- د الشيخ محمد بن إبراهيم فتاوى (55/2).

٣- دليل الفالحين لطرق رياض الصالحين (494/4).

٤- د دې کلمې په لغوي بحث کي خبري پر وسوې.

ستر عالم علامه مُناوی داسي وايي: النّامصه: هغي ښځي ته وايي چي په نوسي سره د مخ او وروځو د ايسته کولو غوښتونکې وي[۲].

امام ذهبی د الکبائر کتاب د نامشخصو او غیر مشهورو ګنهونو پر تر سره کوونکو باندي د لعنت د درستوالي په فصل کي وايي:

رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «لَعَنَ اللہ النَّامِصَةِ...».

«الله لعنت فرمايلی دی پر هغي ښځي باندي چي د وروځو وريښتان کاږي».

امام ذهبی وايي: نامصه: هغه ښځه ده چي د نورو د وروځو وريښتان اخلي او متنمصه هغه ښځه ده چي دغه کار پر تر سره کيږي[۳].

ابن حجر هيتمی په الزواجر عن ارتکاب الکبائر کتاب کي وايي:

النّامصه: هغه ښځه ده چي وروځي تر دې اندازې ښايسته کوي چي نرۍ سي. ابوداود هم د ابن حجر هيتمی نظر تاييدوي. خو هغه څه چي خطابی او نورو د النّامصه په اړه ويلي دي غوره او مشهور دي.دوی وايي: النّامصه کلمه د النمص له مادې څخه ده او معنا يې ده د مخ د وريښتانو اخيستل[٤]. د زياترو عالمانو او پوهانو د ويناوو څېړني ته په پاملرنه دې پايلي ته رسيږو چي أَلنَّمص د وروځو د وريښتانو د اخيستلو معنا ورکوي. خو له سترو امامانو، لکه جلال

---

۱- رياض الصالحين، 629 مخ.

۲- فيض القدير (273/5).

۳- الکبائر، 144 مخ.

٤- الزواجر عن اقتراف الکبائر (142/1).

الدين سيوطی، امام السندی[1]، خطابی[2]، شوکانی[3] او نورو امامـانو او لويانو څخه ـ چې دمخه مو د هغو نومونه واخيستل ـ روايت سوی دی چې الـنمص عـام دی؛ يعنـي د مـخ د وريښـتانو اخيسـتل چـې وروځې هم پکښې راځي.

## د اوسنيو سترو عالمانو فتوا

بی مناسبته نه ده چې دلته د اوسنيو عالمانو نظرونه هـم د وروځـو د اخيستلو او نری کولو د حکم په اړه بيان کړو:

▲ له ستر عالم شيخ عبدالعزيز بن باز څخه پوښتنه وسوه:

سؤال: له وروځو څخه د اضافه وريښتانو د کمولو حکم څه دی؟

جواب: د وروځـو د وريښـتانو کمـول او اخيسـتل درسـت کـار نـه دی، ځکه چې له پيغمبرﷺ څخه روايت سوی دی:

«لَعَنَ اللّٰه النَّامِصَةِ وًالمتنمصةَ».

«لوی څښتن پر هغه ښځه باندې چې د وروځو وريښتان نري کوي يا يې اخلي لعنت ويلی دی او پر هغه ښځه يې هـم لعنـت ويلـی دی چې د دې کار د ترسره کېدو غوښتونکې وي».

د علم خاوندانو څرګنـده کـړې ده چې د دوو وروځـو د وريښـتانو ايسته کول او اخيستل د اَلنَّمص په کلمه کې شامل دي[4].

---

١- د سيوطی او السندی شرح سنن نسائی (147/8).

٢- سنن ابی داود بشرح الخطابی (77/4)، 4169شمېره حديث.

٣- نيل الأوطار (342/5).

٤- مجله الدعوه، 975 ګڼه.

▲ له لوی استاد شیخ محمد بن صالح عثیمین څخه پوښتنه وسوه:

سؤال: د وروځو د ځینو اضافه وریښتانو د اخیستلو یا کمولو حکم څه دی؟

جواب: کـه د وروځـو د وریښـتانو اخیسـتل د کښلو په بڼه وي دا هماغه «نمص» (یعني د وروځو نري کول دي) او رسـول اللهﷺ پـر هغه چا چي دغه کار کوي او پر هغه چا چي د دې کار غوښتونکی دی لعنت ویلی دی. او دا عمل له لویو (کبیره) ګنهونوڅخه دی. دا کار په ښځو پوري ځانګړی دی، ځکه چي هغوی دا کار زیاتره د ښکلا لپاره کوي او که نارینه دا کار وکړي هغه هم د ښځو غوندي د لوی څښتن لخوا تر لعنت لاندي راځي. له دې ناوړه کار څخه په لوی څښتن سره پناه غواړو. او که دا کار د وریښتانو له کښلو پرته وي، مثلاً د وریښتانو په لنډولو یاخریلو سره وي، ځیني عالمان یې د وریښتانو د کښلو غوندي حرام بولي، ځکه چي په دې کي د لوی څښتن د خلقت بدلون راځي. نو په دې هکله د وریښتانو کښل، لنډول او خریل فرق نه کوي.

دا بې له شکه ډېره غوره او ډاډ منه نظریه ده، نو پر مسلمان، ښځه وي که نر لازمه ده چي له دې عمله ډډه وکړي[۱].

▲ له ستر استاد شیخ عبداله بن جبرین څخه پوښتنه وسوه:

سؤال: د وروځو د اخیستلو حکم څه دی؟

---

۱- د محمد بن صالح العثیمین الفتاوی النسائیه ، 27مخ.

جواب: د وروځو د وریښتانو اخیستل او د هغو نریۍ کول جواز نه لري. او دا هغه کار دی چي په هکله یې منع راغلې ده. رسول اللهﷺ پر هغو کسانو چي دا کار کوي یا د دې کار غوښتونکي دي د لوی ښښتن په خلقت کي د بدلون راوستلو له امله لعنت ویلی دی[۱].

▲ لوی استاد شیخ ناصرالدین البانی د: آداب الزفاف (د واده آداب) په کتاب کي داسي وایي:

په ښځو باندي د وروځو اخیستل یا د کماني یا هلال (سپوږمۍ) په بڼه د هغو جوړول او په دې توګه د ښځو په ګومان ځان ښایسته ایسول، له هغو کارونو څخه دي چي د خدای پیغمبر حضرت محمد ﷺ حرام او ممنوع کړي دي او د هغه پر ترسره کوونکي یې لعنت ویلی دی. رسول الله فرمایي:

«لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ»[۲].

«الله تعالی لعنت فرمایلی دی پر هغو ښځو چي خالونه وهي او پر هغو ښځو چي غواړي خالونه ورووهل سي، او پر هغو ښځو چي وروځي نریۍ کوي او پر هغو ښځو چي د هغو د نریۍ کولو

---

۱- د دې سوال جواب د شیخ په خپل لاس لیکل سوی دی ، لوی ښښتن دي اجرونه ورکړي.

۲- د شیخ محمد ناصرالدین البانی آداب الزفاف ، 113 مخ. او دغه ستر استاد وایي په دغه حدیث کي چي د : المغیرات خلق الله (یعني د لوی ښښتن خلقت او جوړښت ته بدلون ورکونکي) خبره راغلې ده چي دا ټولو دغسي مواردو ته شاملیږي .

غوښتونکي وي، او پر هغو ښځو چي غاښونه د ښکلا په موخه نـري کوي ،او پر هغو ښځو چي د لوی ځښتن خلقت ته بدلون ورکوي».

▲ استاد محمود محمد شاکر پـر تفسـیر طبـری بانـدي پـه خپلـه حاشیه او نظریه کي لیکي:

ألمتنمصـه والنامصـه: هغـو ښـځو تـه وایـي چـي د خپلـو وروځـو وریښتان په نوسي اخلي او هغه نرۍ، او اوږدې جوړوي.

▲ له ستر استاد شیخ عبدالعزیز بن باز څخه د هغو وریښـتانو د ایسته کولو د حکم په هکله پوښتنه وسوه چي د ښځي پر مـخ را شـنه کیږي.

هغه جـواب ورکـړ: د دې پوښـتني جـواب توضـیح لـري: کـه دغـه وریښتان عادي وي، نو اخیستل یې درست نه دي، ځکه چي حـدیث دی:

«لَعَنَ الله النَّامِصَةِ والمتنمصة».

«لوی ځښتن پر هغي ښځي چي د وروځو وریښـتان نـري کـوي او پر هغي ښـځي چـي د هغـو د اخیسـتلو غوښـتونکې وي لعنـت ویلـی دی».

النَّمص د مـخ او وروځـو د وریښـتانو اخیسـتل دي. خـو کـه دغـه وریښتان څه زیاتي شی وي، مثلاً د خلقت د بد ایسېدلو لامل کیږي، لکه د ښځو بریتونه او ږیره، نو په دې صورت کي د هغو اخیستل څه باک نه کوي او ګناه نه لري، ځکه چي د ښـځي خلقـت او قیافـه بـده ایسوي او هغې ته ضرر رسوي[1].

١- التوحید وما یلحق به (402/6).

▲ داسي سوال هم د افتا دايمي هيئت ته متوجه سو چي د دوو وروځو په منځ کي د راشنو سوو وربښتانو د کښلو په هکله د اسلام حکم څه دی؟

جواب: د دغسي وربښتانو کښل او ايسته کول جايز او درست دي ځکه چي دغه وربښتان د وروځو برخه نه ګڼل کيږي[۱].

▲ له درانه استاد شيخ عبدالعزيز بن باز څخه پوښتنه وسوه چي که ښځه خپل سر او وروځي وخريي او د مصنوعي وربښتانو خولۍپر سر کړي څه حکم لري؟

جواب: ښځي ته روا نه ده چي خپل سر وخريي، مګر کله چي اړتيا ورپيښه سي، لکه چي ترمذی او نسائی له حضرت علیﷺ څخه روايت کړی دی چي رسول اللهﷺ ښځه د سر له خريلو څخه منع کړې ده. خو د سينګار په موخه د وروځو د وربښتانو خريل يا يې کمول يا يې د شاوخوا اخيستل، خريل او کښل، لکه چي ځيني ښځي يې نن مهال کوي حرام دي، ځکه چي دا د لوی څښتن په خلقت او جوړښت کي بدلون باله سي او له شيطان څخه پيروي ده کوم چي انسان غولوي او د خدای د خلقت بدلون ته يې هڅوي، لوی څښتنﷻ فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١١٦ إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا ١١٧ لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ١١٨ وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ

۱- فتاوى اللجنه الدائمه الإفتاء (197/5).

وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا مُّبِينٗا ﴿١١٩﴾ [النساء: ١١٦-١١٩].

«بې شکه الله دا نه بخښي چي د هغه سره څوک شريک ونيول سي او تر دې کمه هره ګناه، هر چا ته چي وغواړي بخښي. او څوک چي د (يوه واحد الاحد) الله سره (د ده له مخلوق څخه) شريک ونسي، هغه له سمي (او حق) لاري څخه ډېر ليري سو. مشرکان چي له الله پرته دکومو (موجوداتو) بنده ګي کوي، هغه صرف څو ښځينه بتان دی (چي نه ګټه ور رسوي، نه ضرر). او څوک چي دوی لمانځي (او معبود يې ګرځوي) هغه له دغه سرکښ شيطان څخه پرته بل څوک نه دی. (چي د فساد او د فاسدولو نهايي پولي ته رسېدلی دی). کوم چي الله لعنت پر کړی دی (له خپله رحمته يې ليري کړی دی) او هغه (شيطان) الله ته (د ملعون کېدو په وخت کي) ويلي دي چي: «زه به ستا له بنده ګانو څخه يوه ټاکلې برخه واخلم». (او په قول او عمل کي به يې له سمي لاري واړوم). او زه به هرو مرو هغه څوک چي زما متابعت وکړي له سمي لاري (د حق له لاري) واړوم او ښه به يې په (درواغجنو) هيلو (او خواهشونو) کولو بوخت وساتم او (کله چي مي دوی خپل امر منلو ته چمتو کړل، نو) بلنه به ورکړم چي (د غير الله د نذر لپاره) د څارويو غوږونه (پرې او) څيري کړي او بلنه به ورکړم چي د الله لخوا (په فطري) جوړونه (تخليق) کي بدلون راولي. او څوک چي د الله پر ځای شيطان (کالخوای او) دوست کړي (او د هغه بلني ومني) ، نو په ښکاره تاوان اخته سوی دی».

په صحيح حديث کي راغلي دي چي ابن مسعودرضي الله عنه له پيغمبرصلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چي:

«لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ».

«الله تعالی لعنت فرمایلی دی پر هغو ښځو چي خالونه وهي او پر هغو ښځو چي غواړي خالونه ورووهل سي، او پر هغو ښځو چي وروځي نری کوي او پر هغو ښځو چي د هغو د نری کولو غوښتونکي وي، او پر هغو ښځو چي غاښونه د ښکلا په موخه نري کوي ،او پر هغو ښځو چي د لوی څښتن خلقت ته بدلون ورکوي».

بیا ابن مسعودﷺ د خپلو خبرو په دوام وایي: آیا پر چا چي پیغمبرﷺ لعنت ویلی وي، زه لعنت ونه وایم؟ په داسي حال کي چي قرآن موږ د پیغمبرﷺ په پیروی او اطاعت امر کړي یو!

لوی څښتن فرمایي:

﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٧﴾ [الحشر: 7].

«څه چي پیغمبر تاسي ته (له الهي احکامو څخه) دروړي دي هغه واخلئ (تر سره یې کړئ) او له څه شي څخه چي هغه تاسي منع کوي، له هغو څخه منع سئ. له الله څخه وبېرېږئ، چي الله سخت سزا ورکوونکی دی»[۱].

خو دګیس د خولۍ[۲] (الباروکة: دمصنوعی یاجوړو سوو ورېښتانو) په هکله باید ووایو چي په صحیح بخاری، مسلم او د احادیثو په نورو کتابونو کي له پیغمبرﷺ څخه روایت سوی دی:

---

۱- مجلة البحوث الإسلاميه (353/3).

۲- د ګیس د خولۍ یا الباروکة کیسه داسي ده چي هغه فرانسویانو اختراع کړه او انګرېزانو ګټه ځني واخیسته . په اصل کي د ګیس خولۍ د زنا لپاره یو ډول پوښښ وو!! پر دې سربېره هغه څه چي د ګیس تر خولۍ لاندي پټېږي هغه دوره او مهال دی چي د ګیس د خولۍ عصر او زمان بلل سوی دی.له ګیس

«لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ».

یعني پیغمبرﷺ پر هغه ښځه چې د وریښتانو د لنډو یا اوږدو ایسېدو لپاره د بل نارینه یا ښځي وریښتان په خپلو وریښتانو یا د بل چا په وریښتانو پوري تړي او همداراز پر هغه ښځه چي له بل څخه غواړي چي د دې په وریښتانو پوري نور وریښتان وتړي، لعنت ویلی دی.

«الواصله» هغي ښځي ته وایي چي د نورو وریښتان په خپلو یا د نورو ښځو په وریښتانو پوري تړي.

په دې هکله امام بخاری د معاويهؓ حدیث داسي بیانوي:

یوه ورځ حضرت معاويهؓ د حج پر مهال د رسول اللهﷺ منبر ته وخوت او خلکو ته یې د خطبې په ترځ کي یو مقدار وریښتان چي د ساتونکي (سرتېري) په لاس کي یې وه، په لاس کي ونیول او ویې ویل: ای د مدینې خلکو ستاسي علما چیري دي؟ ولي پته خوله

---

خولۍ څخه زیاته ګټه اخیستنه په اتلسمه پېړۍ کي د اروپایي ناروغیو، لکه د سر د وریښتانو تویېدو، د مخ د لکو، د پوست د پاړسوب او د تناسلي غړو د پېزي کېدو او د هغو د عوارضو د خپرېدو سره یو ځای خپره سوه.
د سر او تندي د عیبونو د پټېدو لپاره د ګیس خولۍ اختراع سوې او د غاړي او سینې د بد بوی ورکولو له امله د اوږدو او جګو ګرېوانونو درلودونکي کمیسونه رامنځ ته سول، خو د مخ دانې په کریمونو او پوډرو له منځه تلې.
چي دا په پنځلسمه پېړۍ کي په اروپا کي د زنا د ناورین د رامنځ ته کېدو او اوج ته د هغې د رسېدو سره یو ځای وو، خو اوس داخبري هیري سوي دي او انګرېزي قاضیان دغه کالي د اروپایي تاریخ او تمدن په یاد اغوندي!! چي دا ډېر د فکر او غور ځای دی. د «الإيدز يعزف لحن الموت» (ایډز د مرګ سندره وایي) د کتاب له ، 195مخ څخه.

ناست یاست. ما له رسولﷺ څخه اورېدلي دي چې د زينت لپاره يې د دغسي ورېښتانو له استعمالولو څخه منع کول او ويل يې:

«إِنَّمَا هَلَكَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ حِينَ اتَّخَذَ هَذِهِ نِسَاؤُهُمْ».

«اسرائيل هله هلاك سول چې ښځو يې دغه ورېښتان په خپلو ورېښتانو پوري تړ»[1].

معاويهؓ د ورېښتانو د تړلو او پيوند په هکله مطلب لري او هغه دا چې د سر له مصنوعي ورېښتانو څخه استفاده کول بالکل د پيوند حکم لري، چې دا د معاويهؓ د ژور فهم او زيات علم نخښه باله سي. د دې علم او فهم دليل دادی چې کله ښځه د دې لپاره چې د سر ورېښتان يې اوږده، يا ګڼ او زيات سي نو نور ورېښتان پوري تړي چې داکارحرام او د لعنت وړ دی، ځکه چې په دې کار کي غولونه، د عيب پټونه او درواغ وجود لري. نو د يوه بشپړ او مصنوعي سر څخه استفاده کول ډېر غولوونکی او ډېر باطل او ناحقه باله سي. چې دا مطلب الحمد لله ډېر څرګند او روښانه دی. پر دې مواردو سربېره د دې کار کول له يهودو څخه تقليد دی او پيغمبرﷺ فرمايي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ»[2].

«څوک چې د يوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کيږي».

---

١- صحيح البخاري، کتاب اللباس، باب وصل الشعر(٥٩٣٢) شمېره حديث.

٢- دغه حديث احمد او ابوداود روايت کړي دي او علامه الباني صحيح بللی دی.

▲ سؤال: کله چي د ښځي پر سر هيڅ وريښتان نه وي، په دې هکله څه حکم وجود لري؟

درانه استاد شيخ ابن عثيمين جواب ورکړ:

جواب: وروسته تر دې چي استاد ابن عثيمين د ګيس د خولۍ حکم بيان کړ او ويې ويل چي حرام دی، ويې فرمايل: که د ښځي پر سر هيڅ وريښته نه وي او اصلاً وريښتان ونه لري، په دې صورت کي که د مصنوعي وريښتانو له خولۍ څخه استفاده وکړي چي دغه عيب په پټ کړي، نو ګناه يې نه ده کړې. ځکه چي د عيب او نيمګړتيا له منځه وړل روا او درست کار دی. رسول اللهﷺ په يوه غزا کي د عيب او نيمګړتيا د پټولو لپاره خپل يوه صحابي ته چي پزه يې پرې سوې وه اجازه ورکړه چي د طلا له مصنوعي پزي څخه استفاده وکړي. نو دا مسأله ډېره پراخه ده، چي کېدای سي جراحي عمليات يا د پزي کوچني کول او داسي نور مسايل پکښي راسي. د ښکلا لپاره جراحي عمليات د عيب او نيمګړتيا له منځه وړل نه بلل کيږي، خو که د عيب او نقص د له منځه وړلو لپاره وي پروا نه کوي. مثلاً د چا په پزه کي يو ډول کوږوالی وي او هغه سم کړي يا د تور خال له منځه وړل وي، دا د اسلام له نظره جواز لري، اما که دا کارونه د عيب او نقص د له منځه وړلو لپاره نه وي، لکه خالونه وهل يا د وروځو نرۍ کول ممنوع او حرام باله سي،او د مصنوعي وريښتانو له خولۍ څخه ګټه اخيستل ان که د مېړه په اجازه او خوښه

هم وي حرام کار دی، ځکه چې رضائیت او اجازه د هغه شي په هکله چې لوی څښتن حرام کړی وي اعتبار نه لري[١].

▲ سؤال: که د ښځې د برېتونو او ږیري پر ځای وریښتان را شنه سي څه حکم لري؟

جواب: درانه استاد شیخ ابن عثیمین جواب ورکړ: که د ښځې د برېتونو او ږیري پر ځای وریښتان پیدا سول، د هغو له منځه وړل هیڅ پروا نه کوي[٢].

دغه بحث د ښځو د بدن د نورو غړو د وریښتانو د له منځه وړلو د احکامو په بیانولو سره نور هم بشپړوو:

▲ سؤال: د ښځو د پښو او لاسونو د وریښتانو د له منځه وړلو حکم څه دی؟

جواب: درانه استاد شیخ بن باز جواب ورکړ: د ښځو د پښو او لاسونو د وریښتانو له منځه وړل هیڅ مشکل او ګناه نه لري او موږ کومه ستونزه نه پکښې وینو[٣].

اما د تخرګونو (بغلونو) او شرمځای د وریښتانو له منځه وړل:

درسته نه ده چې د تخرګونو او شرمځای د وریښتانو ایسته کول تر څلویښتو شواروزو زیات وځنډیږي. لکه چې انس رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي:

---

١- فتاوی اسلامیه (412/1).

٢- پخوانی منبع (406/1).

٣- فتاوی متنوعه، 204مخ.

«وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ وَنَتْفِ الْإِبِطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً»[1].

«رسول الله ﷺ د بريتونو د لنډولو، د نوکانو د اخيستلو او د تخرګونو او د شرمځاى د ورښتانو د ايسته کولو لپاره موږ ته وخت وټاکى چي له دغو څخه به هيڅ يو تر څلويښتو شپو زيات نه ځنډوو».

١ – صحيح مسلم او نور.

# د مخ او وروځو د وېښتانو اخیستل د طبابت له نظره

ای زما ګراني خوري! پوه سه چي لوی او مهربانه خدای هیڅ شی بې له حکمته او ئې له فلسفې نه دی حرام کړی. د وروځو او مخ د وربښتانو د کښلو د حرامېدو لـه فلسفې څخه یو هم هغه ضرر او تاوان دی چي د سترګو اطرافو ته رسیږي. دایې تاسي او دایې پـه دې اړه د ځینو ډاکټرانو نظر او رایه:

د سترګو ځینو متخصصو ډاکټرانو د وروځو د وربښتانو د کښلو په سبب د سترګو د اطرافو د سلولي سکښت د التهاب (پاړسوب) لپاره دوه حالته بیان کړي دي:

لومړی: هغه دوه ویشت کلنه ښځه ده چي د وروځو د وربښتانو تر کښلو دوې ورځي وروسته یې سترګي پړسېدلي او سرې سوي دي. او اړه سوې ده چي د خپلي ناروغۍ د درملني لپاره ډاکټر ته ورسي.

دوهم: هغه ښځه ده چي د ښکلا او د وروځو او د هغو د شاوخوا وربښتانو د کښلو متخصصو ډاکټرانو تـه ورغلې ده او یـوه ورځ وروسته یې د وروځو اطراف سره سوی او پـه درد سوي دي او تـر څلورو ورځو وروسته یې د سترګو اطراف پړسېدلي او راوتلي دي. چي دا ناروغي په روغتون کي د هغې د بستر کېدو لامل سوې ده. ډاکټران اړ سوي دي چي هغې تـه د رګ لـه لاري انتي بیو تیکونـه ولګوي. پر دې ستونزو سر بېره یو ډول لکې د هغې پر مخ لوېدلي دي چي د سترګو د ناروغۍ تر ښه کېدو وروسته یې د شپږو سانتیو په اندازه لکې پر مخ پاتـه سوي دي. چي پـه دې صورت کي بایـد

ناروغ بيا د خپل مخ د دغه عيب د لـه منځـه وړلـو لپـاره د ښايسـت متخصصو ډاکټرانو ته ورسي او هغه اصلاح کړي.

ډاکټران په دې اند دي چي ښځي بايد له دې ډول معجونونو او کريمونو او د وروځو د وربېښتانو د کښلو لپاره له دې مشکلاتو او سختيو ځخه ډډه وکړي (که څه هم د دې کريمونو عـوارض لـږ هـم وي).او پـر ډاکټرانـو لازمـه ده چـي خپـل ځانونـه د هغـو نـاروغيو د درملني لپاره په هر اړخيز تلاښ او فعاليـت سـره چمتـو کـړي چـي د وروځو د وربېښتانو او... تر کښلو وروسته رامنځ ته کيږي.

پورتني مطالب د ايجست په نامه د طبي مجلې ټکي په ټکي ژبـاړه ده چي د هغې د 1987 کال په ګڼه کي خپاره سوي دي[۱].

نو آيا امکان نه لري چي دغـه تکليفونـه چـي د وروځـو او د مـخ د اطرافو د وربېښتانو له اخيستلو ځخه رامنځ ته کيـږي د رسـول اللـهﷺ لخوا د دې کار د تحـريم فلسـفه وي؟ او مـوږ او تاسـي پـوهيږو چـي رسول اللهﷺ د پاک او سپېڅلي فطرت پيغمبر دی، او پر دې بنسـټ يې فرمايلي دي چي:

«لَعَنَ اللَّهُ النَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ».

«خدای پر هغو ښځو چي د نورو وروځي نـری او اوږدې کـوي او پر هغو ښځو چي د دې عمل غوښتونکي دي لعنت فرمايلی دی.

لعنت له پاک او سپېڅلی فطرت ځخـه ليـري والـی، او د حـق لـه فرمان او لارښووني ځخه تمرد او سرغړونه ده، او د سـرغړوني پايلـه سزا او عذاب او د لوی ښتن له رحمت ځخه ليري کېدل دي.

---

۱- مجلة المجتمع، (830) ګڼه

نو دغه له خپل پاک فطرت څخه لیري سوی جسم بې له دې چي په روحي او جسمي کړاوونو اخته سي بله چاره نه لري. او ښايي د سترګو په شاوخوا کي دغه التهابات او پاړسوبونه د دغو حالتونو له امله وي.

نو بې حجابه او لڅه ښځه چي وروځي يې اخيستي او نرۍ کړي دي او په دې ډول له سينګارځي څخه راوزي، بايد هرو مرو د ښايست جراح ته هم ورسي[1].

د اسکندريې پوهنتون د طب د پوهنځي استاد ډاکټر و هبه احمد حسن وايي: په بېلو بېلو وسايلو د وروځو د ورېښتانو اخيستل، بيا د وروځو قلم او نور، لکه پر پوست باندي د ځينو موادو استعمالول کېدای سي ضررناکي اغېزې ولري. ځکه چي رنګونه له درنو کاني ترکيباتو، لکه مسو او جيوې[2] څخه جوړ سوي دي، او په غوړزګنو ترکيباتو کي، لکه ککاؤ غوړو کي ويلي کيږي. د دې تر څنګ تېول رنګي توکي ځيني نفتي مواد هم لري او دا تېول ډول ډول اکسيډونه دي چي پوست ته تاوان رسوي. کله چي پوست دغه مواد د خپلو سوريو له لاري جذب کړي په پاړسوب او حساسيت اخته کيږي. او کله چي له دغو کېمياوي موادو څخه ګټه اخيستنه تل او پرله پسې وي، نو ښايي د زړه، وينو او پښتورګو پر تشکيلوونکو توکو باندي ضررناکه اغېزه ولري. دغه مواد چي کېمياوي ترکيبات لري، بشپړ رسوبي حالت لري، چي جسم له هغه څخه په آسانۍ نه سي ژغورل

۱- په پورتنۍ مجله کي د دکتور حمدی حسن تعليق.

۲- جيوه يو ډول فلزي نقره يي رنګه عنصر دی چي په متعارفه تودوښه کي ويلي کيږي او په تر صفر لاندي ٤٠ درجې کي منجمد کيږي.

کېدای. په بېلو بېلو وسایلو د وروځو د وریښتانو اخیستل د پوستکي چینجي رامنځ ته کوي چي په پایله کي یې د پوستکي سلولونه زیاتیږي او چي د وروځو د وریښتانو کښل بند سي، نو د وروځو وریښتان بېخي ډېر سي. په داسي حال کي چي موږ پوهیږو چي طبیعي وروځي د وریښتانو، تندي او د مخ د ګردیوالي سره مناسبي وي[1].

پایله: دغه مطالب د خطر زنګ دی چي ډاکټرانو بیان کړ او پوهوي مو چي ای ښځي! چي د وروځو او... وریښتان اخلې دمخه تر دې چي کار تر کار تېر سي پوه او متوجه اوسه، لوی څښتن څه ښه ویلي دي:

﴿سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ أَوَ لَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ۝٥٣﴾ [فصلت: 53].

«ډېر ژر به موږ دغو ته (چي له اسلام او قرآن څخه منکردي او درواغ یې ګڼي) خپلي نښاني (او دلایل) په آفاقو (د آسمانونو او ځمکو په اقطارو او نواحیو) کي (چي ستر جهان دی) هم وښیو او د دوی په خپلو نفسونو کي (چي کوچنی جهان دی) هم وښیو، تر دې پوري چي دوی ته داخبره څرګنده سي چي دغه قرآن (او اسلام) په رشتیا سره حق دی. آیا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی ؟».

۱- د الزهراء فاطمه بنت عبداله، المتبرجات: 94 مخ، د انور جندی د المرأة المسلمه فی وجه التحدیات د 62مخ په حواله .

## دغه ټکي د تأمل او تفکر وړ دي

زما مسلماني خور! د پورتنیو مسایلو تر څېړني وروسته لاندي ټکو ته پام وکړئ:

۱- ستا ایمان پر دې باندي چي حضرت محمدﷺ د لوی څښتن رسول او پیغمبر دی ایجابوي چي هغه چي څه لارښوونه کړېده ومنې او اطاعت یې وکړې. او له کومو چارو څخه چي هغه منع کړې یې لیري واوسې، د دغو منع کړی سوو شیانو له جملې څخه یو هم د وروځو او مخ د وریښتانو کښل دي چي په هکله یې دمخه ځرګندوني وسوې. نو پر تا واجب ده چي دې اوامرو ته غاړه کښېږدې

۲- په واقعیت کي د وروځو او مخ د وریښتانو کښل له کفارو څخه تقلید دی او حضرت رسول اکرمﷺ فرمایي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ».

«څوک چي د یوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کیږي».

۳- د وروځو او مخ دواړو د وریښتانو کښل حرام دي (ځیني ښځي په ځینو وسایلو د مخ وریښتان کاږي)، په داسي حال کي چي د دې کار په هکله د لوی څښتنﷻ او د هغه پیغمبرﷺ لخوا ځیني ګواښونه سوي دي چي لازمه ده په هغو ځانونه خبر کړو.

۴- ځیني ښځي په دې اړه خپل دلیل دا راوړي چي د دې وریښتانو کښل د مړونو لپاره سینګار دی، په داسي حال کي چي باید پوه سي چي څنګه چي دا کار ګناه او معصیت دی،

نو د هغه په کولو کې د مړونو اطاعت واجب نه دی، ځکه چې پیغمبرﷺ فرمايي:

«لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ»[۱].

«د لوی څښتن په معصیت او ګناه کې د هیچا اطاعت درست نه دی».

۵- چا چې دا کار کړی دی باید سمدستي توبه وکاږي. ځوک چې د لوی څښتن لپاره یو کار پرېږدي لوی څښتن د هغه پر ځای تر هغه ښه شی ورکوي. د بېلګې په توګه زه ځيني پېغلې پېژنم چې دوني ښه رنګ نه لري او د وروځو وربېښتان یې سم او پرترتیب برابر نه دي، چې د ځینو خلکو په سترګو د دغو نجونو قیافه او ظاهري کړه وړه ښه نه ورځي، خو دغسي ځوانو او د لوی څښتنﷻ د اوامرو پابندو او د اسلامي حجاب رعایت کوونکو نجونو ته لوی څښتن هم له اخلاقي پلوه او هم د قیافې او بڼې له پلوه ډېر ښایسته مړونه په نصیب کړي دي. چې سړی اریان سي چې دا ځوک دی چې دا نجلۍ یې د دې سړي تر سترګو ښایسته ایسولې ده؟ او د دې بدرنګي یې د دې ښکلا او جاذبه ګرځولې ده. آیا دغه ځوک هغه خدای نه دی چې دغې پېغلې له هغه څخه اطاعت کړی دی؟ او هغه څه چې لوی څښتن پیدا کړي په هغو خوښه ده او هیڅ بدلون یې نه دی ورکړی؟[۲].

---

۱- ترمذي اونور، دغه حدیث علامه الباني صحیح بللی دی.

۲- د المتبرجات کتاب له 93 مخ څخه په لږ تصرف را اخیستنه .

## پای

زما مسلماني خور! وروسته تر دې چي د وروځو او مخ د ورېښتانو حکم دي مطالعه کړ او د ډېرو پخوانيو او اوسنيو عالمانو او ځينو ډاکټرانو اقوال او ويناوي وڅېړل سوې، زه هم ځيني سپارښتني او توصيې لرم او وايم (لوی څښتن دي زما او ستاسي سمي لاري ته لارښوونه وکړي):

له لويه څښتنه وبېرېږه او د توبې کښلو لپاره بېړه وکړه. هغه ورځ درپه ياد کړه چي د لوی څښتن لوري ته ورګرځې. د هغو کارونو په اړه چي پخوا دي کړي دي پوښتنه درڅخه کيږي،چي په څه کارونو لګيا يې؟ تاخو داسي کار کړی دی چي د خدای له رحمته ستا د ليري والي او پر تا د لعنت لامل سوی دی. په داسي حال کي چي په لمانځه او له هغه دباندي له خدايه د بخښني او رحمت غوښتنه کوې! نو آيا ستا دا کار ستا د وينا او عمل په منځ کي تضاد نه لري؟ ته خو له لوی څښتنه رحمت غواړې، خو په عين حال کي داسي کار کوې چي د لوی څښتن له رحمت څخه ستا د ليري والي لامل کيږي؟![1]
چي دا د ډېر تاثر او تعجب وړ دی!

په دې هکله څه چي خدای او رسول وايي هغسي وکړه. د حضرت محمدﷺ خبره درپه ياد کړه چي فرمايي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ».

---

۱– له داسي کار څخه موخه هماغه نمص يعني د وروځو او مخ د ورېښتانو له منځه وړل دي.

«څوک چي د يوه قوم سره ورته او مشابه سي، نو له هغو څخه ګڼل کيږي».

او د رسول اللهﷺ بله خبره درپه ياد کړه چي فرمايي:

«لَتَتْبَعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ شِبْرًا شِبْرًا وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ تَبِعْتُمُوهُمْ». قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى قَالَ: «فَمَنْ؟».

«داسي وخت به راسي چي تاسي به لوېشت په لوېشت او ګام په ګام تر تاسي دمخه وګړو لار او کړني تعقيب کړئ، تر دې کچي چي که هغوی د سمسارې د غار غوندي تنګي سمځي ته ننوزي تاسي به هم پسي ننوزئ. اصحابو ورته وويل: ای د لوی ښتن استازې! آيا مطلب دي (له تر تاسي دمخه وګړو څخه) يهود او مسيحيان دي؟ پيغمبرﷺ ورته وويل: نو څوک مي مطلب دي؟

ابن مسعودرضي الله عنه وايي: تاسي د ظاهري قيافې او بڼي او د ژوندانه په کړو وړو کي بني اسرائيلو ته ډېر ورته ملت ياست او ټکي په ټکي به د هغو د کړو وړو پيروي کوئ. يوازي دا خبره ماته مشخصه نه ده چي آيا سخوندر ته به هم عبادت کوئ که نه؟[1] څرګنده ده چي دا کار تقليد دی او په هغه کي ورته والی وجود لري.

ای زما مسلماني خور! څنګه چي نوري ښځي دغه کار کوي، نو ته هغوی د دليل په توګه خپل سر مشق مه ګرځوه، بلکي د لوی ښتن دا لارښوونه در په ياد کړه چي فرمايي:

﴿وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ﴾ [الأنعام: ١١٦].

١- اقتضاء الصراط، 107مخ.

«او ای محمده! که ته دهغو خلکو د زیاترو په خوله وکړې چي په مځکه کي مېشت دي (او کافران او منافقان دي) نو هغوی به تا د الله له لاري واړوي».

د ځینو صالحو اولنو خبره درپه یاد کړه چي وایي: سمه لار واخله او پام کوه چي د سمي لاري د لارویانو لږوالی دي ونه غولوي او له ناسمي لاري څخه لیري اوسه او پام کوه چي د دې لاري د تلونکو او هلاکېدونکو ډېروالی دي خطا نه باسي.

ای زما مسلماني خور! پوه سه چي عربي ژبه د کلماتو د اشتقاق ژبه ده، مثلاً (کَتَبَ، یَکْتُبُ، کتابة)، (قَرَأَ، یَقْرأ، قراءة)، (النمص، النامصة، المتنمصة، المنماص). او لکه څنګه چي وویل سول «منماص» (نوسی) د وروځو د وربېښتانو د اخیستلو آله ده، چي هغه نری کوي او درستوي، او زیاتره د وروځو د وربېښتانو د اخیستلو لپاره له هغه څخه استفاده کیږي. «النامصة» هغه ښځه چي دغه کار ترسره کوي او د خدای ﷻ په لعنت اخته کیږي. نو ای لویه څښتنه! له دې ناوړه کاره تا ته پناه دروړم.

ای زما مسلماني خور! هیڅکله د خپل مېړه امر د حرامو او نامشروع آرایشونو لپاره دلیل مه ګرځوه، ځکه چي د ګناه او معصیت په تر سره کولو کي د هیڅ مخلوق پیروي او اطاعت جایز نه دی.

ای زما مسلماني خور! ـ لوی څښتن دي ما او تاته توفیق راکړي چي رضا او خوښي یې ترلاسه کړو ـ پام وکړه چي ټول عالمان چي دمخه مو د هغو نومونه واخیستل، لکه: احمد، نووی، خطابی، ابوداود، ابن حجر، مُناوی او نور متأخر (وروستني) علما ټول پر دې په یوه خوله دي چي د مخ او وروځو د وربېښتانو اخیستل حرام دي.

وليس يصح في الأذهان شيء إذا احتاج النهار إلى دليل

يعني: كله چي سپينه ورځ دليل ته اړتيا ولري، نو هيڅ شی به په اذهانو کي درست او د منلو وړ نه وي.

نو ای زما مسلماني خور! د لوی څښتنﷻ او د هغه د پيغمبرﷺ اطاعت او فرمان وړلو ته ورودانګه او ووايه چي: ﴿سَمِعْنا وَأَطَعْنا﴾ «وامو ورېدل او اطاعت مو وکړ»، او هغه څه مه وايه چي يهودو وويل: ﴿سَمِعْنا وَعصينا﴾وامو ورېدل،خو سرمو ځني وغړاوه. په ياد ولره چي هرڅوک چي يو شی د خدای لپاره پرېږدي، خدای د هغه پر ځای ډېر ښه شی ورکوي.

نو چي تصميم دي ونياوه چي تر دې وروسته به هيڅکله د وروځو او مخ ورېښتان نه اخلم، نو لوی څښتنﷻ قادر دی چي په څېره کي دي نور او په زړه کي دي ايمان رامنځ ته کړي. او د لوی څښتن دا لطف او کرم ناشونی نه دی. که د وروځو او مخ ورېښتانو اخيستل بل تاوان ونه لري او يوازي دا تاوان ولري چي وخت پر ضايع کيږي بيا هم د هغه د حرام والي لپاره کفايت کوي.

نو ای لويه څښتنه! هغه څه چي حق او حقيقت دي موږ ته راوښيه! او له هغو څخه د پيروی توفيق راکړې!

لويه خدايه! هغه چي باطل او بې ګټي کارونه دي موږ ته يې باطل وايسوه او له هغو څخه د ګوښه اوسېدو توفيق راکړه!

لويه خدايه! موږ له هغو کسانو څخه وګرځوه چي نصيحت ورته وسي پند او عبرت واخلي او چي يادونه ور ته وسي هوښيار اوسي.

لويه څښتنه! موږ له هغو کسانو څخه وګرځوه چي ټولو خبرو ته غوږ نيسي او له ډېرو ښو او نېکو خبرو څخه يې پيروي کوي!

وَصلِّى اللّهُمَّ وسلِّمْ على نبيّنا محمدٍ وعلى آله وصحبه وسلِّم

## د ژباړن لنډه پیژندنه

**عبد المالك (همت)**

- د پلار نوم يې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کي زیږېدلی دی.
- د زیږېدو کال يې ۱۳۳۲ لمریز.
- په اسلامي او ټولنيزو علومو کي يې خصوصي زده کړې کړي دي.
- د ډاکټر نجيب الله د واکمن کېدو په لومړيو کي له هيواده مهاجر سو، لومړي پاکستان او بيا هند ته کډه سو.
- کله چي لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هيواد ته راستون سو. لومړی په کندهار کي اوسېدی او اوس په کابل کي استوګن دی.
- اوس په کور کي د کتابونو په ليکلو بوخت دی.
- تر اوسه يې لاندي آثار ليکلي دي:

1- د همت چيغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ ل. کال خپره سوې ده.

2- سيد جمال الدين افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ ل. کال خپره سوې ده. په ۱۱۳۸۹. کال دوهم ځل خپره سوه.

3- زموږ د قبلې تاريخ (دمکې مکرمې تاريخ) په۱۳۸۵. کال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دريم ځل خپور سو.

4- زموږ د نبي مېنه (د مدينې منورې تاريخ) په ۱۳۸۵ ل. کال خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دوهم ځل خپور سو.

5- ادب او ادبي کره کتنه په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو.
6- د مقالې ليکلو اصول په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۸ کال دوهم ځل خپور سو.
7- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ۱۳۸٦ل.کال خپور سو.په ۱۳۹۰ل.کال دوهم ځل خپور سو.
8- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.
9- زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ۱۳۸۷ل.کال خپور سو.
10- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ۱۳۸۷ل.کال خپره سوه.
11- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
12- د کلمې شريفي حقيقت (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
13- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
14- د حق او باطل جګړې، په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
15- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ (ژباړه) په ۱۳۸۹ل.کال خپره سوه. په ۱۳۹۰ کال دوهم ځل خپره سوه.
16- د حق او باطل د جګړې په هکله (۲۵) مقالې (ژباړه) په ۱۳۸۹ل.کال خپره سوه.
17- د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت (ژباړه) په ۱۳۸۹ل.کال خپره سوه.

18- راځئ توبه وکاږو، په ۱۳۹۰ل.کال خپور سو.
19- زه توبه کاږم، خو...؟ (ژباړه) په ۱۳۹۰ل.کال خپره سوه.
20- د اسلام د بري زېري (ژباړه) په ۱۳۹۰ل.کال خپره سوه.
21- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.
22- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
23- نېکمرغه کورنۍ او د مېړه او مېرمني اختلاف (ژباړه) په ۱۳۹۰ل. کال خپره سوه.
24- د ښځو د کالو او سينګار په هکله ارزښتناکي لار ښووني (ژباړه) په ۱۳۹۰ل.کال خپر ه سوه.
25- د وروځو او مخ د وریښتانو کښل د اسلام او طبابت له نظره، دغه ژباړه ده چي اوس ستاسي په لاس کي ده.

پر دې سربېره يې د هيواد په دننه او دباندي کي بېلي بېلي مقالې هم خپرې سوي دي.

د ليکوال د ګرځنده تليفون لمبر: 0093 700300167
د ليکوال د برېښناليك يا ايمېل آدرس:
**himmat_ afg@yahoo.com**